شهسوار سنګروال ۲۰۱۵/۱۲/۱۹

پښتو شعر او عربي عروض

د هري ژبې غږن غږي د **خجيز** او **څپيز** اندول پر بنسټ، او بيا د هر غږن غږي غږونه د خپلو ځانګړنو له مخې لږ او ډېر توپير لري. نو کله چې په دغه توپير وپوهېږو نو بيا د ژبې خپلواک، بېواک او نيمواک غږونه له خپلو بېلابېلو ځانګړتياوو سره خپلې ښېګڼې لري چې بيا بله ژبه ورڅخه کټ مټ برخمنه نه وي.
که مونږ د ساري په توګه عربي ژبه له پښتو سره پرتله کړو نو ګورو چې عربي ژبه ډېر ځله د غږونو په حرکتونو ددې لګوي چې مونږ **زور، زېر، پېښ،** او غږوندی د بېلګې په توګه يادولی شو.
خو پښتو بيا خپلو ټولو **۳۶ ګونوغږونو** لپاره بېل توري لري.
پر دې بنسټ ويلی شو چې پښتو شعر هم له عربي شعرونو سره د خپل شعري جوړښت له مخې د پام وړ توپير لري. دا ځکه چې شعري قواعد د غږپوهنې بنسټيز توکي دي.
د اسلام د سپيڅلي دين له خپرېدو نه وروسته عربي ژبې د سيمې په ژبو لويه اغېزه وښندله او له دې سربېره عربي علومو هم خپله لمن پراخه کړه او دغه اغېزه تر پښتو ژبې هم راوغوځېدله.
څومره چې د عربي غروضو خبره ده، دغې پوهې هم په پښتنو ليکوالو او شاعرانو اغېزه وکړه.
ښايي دغه اغېزه به د پښتو ادبياتو په لرغوني پېر کې هم وه، ولې د شعر داسې بېلګې په واک کې نه لرو، چې د عربي عروضو په تله يې وتلو، خو د پښتو ادبياتو په کلاسيک پېر په ځانګړي ډول د دغه پېر په لومړي پړاو کې ځينې بېلګې تر لاسه شوي دي، هغه هم ګرانه ده چې کټ مټ ومنل شي چې مونږ دمخه د **ارزاني** او **انصاري** د شعرونو بېلګې په تېره ليکنه کې راوړي دي، ولې د دوی له هڅو سترګې نشو پټولای، چې دا د دوی د کار لومړنۍ هاندې هڅې وې، چې په خپل ځای د پام وړ دي.
د پښتو ادبياتو د منځني ادبي پېر پرمختللي پړاو کې بيا **خوشحال خان ختک** هم د بحرونو يادونه کړې ده.
د **خوشحال خان ختک** د ګڼ اړخيز شخصيت په اړه مو دمخه وويل چې نوموړی د **وحدة الوجود** او **وحدة الشهود** په اړه هم شعرونه کښلي دي، نو له دې څخه دې پايلې ته رسېږو، چې دی په عربي عروضو هم ډېر ښه پوهېده ولې بيا هم د پښتو ژبې په ستونزو يې سترګې نه دې پټې کړې:

پښتو ژبه ده مشکله، ددې بحر مونده نه شي
هم ماله يو څو بحره، په ډېر مېنود راغلي

خو استاد حبيب الله رفيع د خوشحال بابا د دغې هڅې په اړه کاږلي دي: "خوشحال بابا چې د بحرونو کومه خبره کړې ده، هغه سوچه د پښتو دي، هغه عربي بحرونه نه دي البته ظاهراً عروض ښکاري."()
دا چې د عربي عروضو لپاره **خليل بن احمد بصري** څومره زيار ايستلی دی، د ستاينې وړ دی ولې نوموړي هم په دغه لاره کې له نورو بېلابېلو ژبو نه ګټه اخيستې، تر هغې چې د عربي بحرونو په بشپړولو کې د پام وړ برى تر لاسه کړ، ولې د دغو بحرونو خپلول د نورو ژبو لپاره اړينه نه ده چې هرومرو دې په وچ زور د **خليل بن احمد بصري** د بحرونو په مېچ شعرونه وليکل شي.
وروستيو څېړنو ښودلې ده چې په خپله يو شمېر عربي شاعرانو هم د **بصري له عروضو نه** سرغړونه کړې ده چې مونږ عراقي شاعر(**بياتي**) د ساري په توګه يادولای شو، چې نوموړی د بڼې او منځپانګې له مخې داسې شعرونه وکښل چې د **خليل بن احمد** په څرګندونو کې لوی بدلون رامنځته کړ.
خوشحال بابا چې په عربي بحرونو پوهېده ولې بيا هم ده چې کوم بحرونه کارولي دي هغه د خليل بن احمد بحرونه نه دي، د **استاد زيار** خبره "**خوشحال بابا يوازينی شاعر دی، چې له څلورو بحرونو يې کار اخيستی ډېر احتمال دی چې همدغه څلور وي**"
ددې خبرې د سپناوي لپاره غوره ده چې بيا خپله خبره غبرګه کړو، ياني **څپيز، خجيز،** غږيز او سيلابونيک وزن يا نظام کوم جوړښتونه چې د هري ژبې لپاره جوړ دي ځانګړی ارزښت لري. نو بيا چې داسې ده نو د بحرونو بېلول د **خجونو** کار دی ځکه چې همدغه **خجونه** دي چې **بحرونه** ټاکي.
مياشرف چې په پښتو کې پرعروضو کوم کار کړی دی، د نوموړي دغه زيار د ستاينې وړ دی خو کوم کتاب چې د عروضو په اړه يې وکښه د پام وړ ونه ګرځېد، ښايي لامل يې دا وي چې په پښتو کې د تطبيق وړ نشو، په دې اړه شيرشاه ترخوي هم ويلي دي چې د پښتو او فارسي په اوزانو هم په عربي کې شاعري نه شي کېدلی.
استاد رفيع هم دې ته په اشاره ويلي دي چې موږ "**تش تور قالبونه... اخيستی دي، عروض نه... ځکه چې د پښتو له مزاجه سره برابر نه و و.**"

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

استاد د همدغو څرګندونو په لړ کې د **(موالیه)** شعر یادونه هم کړې ده، یانې هغه مهال چې **جعفر برمکي د هارون الرشید** لخوا ووژل شو، نو امر یې وکړ چې په ده به څوک کومه **ویر نه** (مرثیه) نه لیکي، خو د هغه وینځې یو څلور بیت شعر ووایه چې موالیه (موال) یې بولي. ددې خبرې مانا دا چې که د عربي ژبې ځیني قالبونه مونږ خپل کړي دي دارنګه موالیه شعر چې مونږ وروسته پرې خبر شوي یو، له مونږه ورغلي دي او دا د اولسي ادب یو صف ګڼلی شي.
ددې خبرې انګېرنه داده ګنی **هارون الرشید** چې کومه سپارښتنه کړې وه چې په **جعفر برمکي** به په عروضي شعرمرثیه نه لیکل کېږي، خو د برمکي وینځې چې کومه **ویرنه** وکښله هغه **هجایي شعر** وو، نه **عروضي**.
دلته د عروضي شعر او هجایي شعر یادونه وشوه، مونږ د عروضو په اړه په تیر او بیا دغه بحث کې خبرې وکړې، خو که چېرې د هجایي شعر یادونه کوو، نو ورسره جوخته دغه پوښتنه را ولاړیږي، چې پښتو ژبه خوګڼې لهجې لري ایا دغه ستونزه به **خجیز** او **څپیز** جوړښتونه زیانمن نه کړي؟
په **پلکلوریک** او **اولسي شعرونو** کې ښایي دا ستونزه وي ولې کله چې د لیکلي ادب لمن پراخیږي، هلته د لهجو شمېر چې ګڼې په **خجونو** به اغېزه وکړي، دا ډول اندېښنه کوم ځای نه لري ځکه چې لیکلي شاعري په معیاري ژبه کېږي.
مونږ د پښتو په اولسي ادب کې د شعرونو او په تېره د سندریز ادب یادونه وکړه چې یانې د پښتو ادب دغه شتمنی دومره پراخه او پرېمانه ده چې د پښتنو کلو او باندو ته یې رېښې ځغلولي دي، غوره به وي چې د پایلې او وروستیو خبرو په توګه د پښتو د ولس او سندریز ادب یو لنډ جاج واخلو:
د خلکو سندرې زمونږ د **سندریز ادب** لومړۍ بېلګې دي چې پیل یې د میندو له سندرو نه کېږي او همدارنګه د **ماشومانو سندرې**، **د واده سندرې**، غړانګې لکه **کاکړۍ**، د بېلابېلو **سروکو** بېلګې او هم د **نارو** بېلابېل ډولونه لکه د **اتڼ نارې**، تاریخي نارې، د **هوتکو نارې**، د **یوسفزیو نارې** او نورې نارې یادولای شو.
د اولسي ادب په لړ کې **لنډۍ** بیا د یادشوي سندریز ادب په یو شمېر بېلګو کې تکرارېږي، چې مثالونه یې په درېیم څپرکي کې راغلي دي.
د پښتو لرغوني سندرې چې د منځپانګې له مخې د **ویدا** او **اوستا** له یو شمېر سندرو سره ګډه پوله لري له **امیر کروړ** نه پیلیږي چې د لوستو لخوا به کښل کېدې چې مونږ ویاړنې **اخلاقي** او **حماسي** سندرې د بېلګې په توګه یادولای شو:
مونږ دمخه د لیکلي ادب یادونه وکړه او بیا مو د شعرونو قلمي دېوانونه هم معرفي کړل، چې په یو شمېر دېوانونو کې دېواني سندرې هم تر سترګو کېږي، چې له **ښکارندوی** نه راواخله، تر **میرزا خان بارکزي** پورې رسېږي.
د یادولو وړ ده چې د یو شمېر داسې سندرو نوم واخلو چې زمونږ په سندریز ادب کې څرک لیدل شوی دی. دا ډول سندرې د نالوستو لخوا ویل شوي دي، خو بیا یې کتابي بڼه هم خپله کړې ده.
لکه څرنګه چې د سیمې او نړۍ د هېوادونو ادب او فرهنګ یو په بل اغېزه کوي دارنګه سندریز ادب هم بې اغیزې نشي پاتې کېدای. د مثال په ډول **هندي موسیقي د پښتو په سندریز ادب اغېزه وېښندله** او بیا یو شمېر شاعرانو چې د موسیقۍ سره یې هم بلدیت درلود، **مقامي سندرې په هندي راګ** برابرې کړې.
اوس د پښتو په سندریز ادب کې د نوي او ازاد شعر ځیني بېلګې هم تر سترګو کېږي په دې هیله چې لا وغوړېږي، لا وده او پرمختګ وکړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ